فضل الرحمن عمرخېل - تاند

نيټه 21/12/2009

# کرزی صیب ! لکه چې زمونږ همداسزاشوه



دادی له اوږده انتظارو روسته هغه ورځ راورسيده چې دروان لمريز۱۳۸۸ کال دولسمشرۍ په جنجالي ټولټاکنوکې بېسياله ګټونکي ښاغلي حامدکرزي دخپل لومړي مرستيال قسيم فهيم پواسطه دخپل راتلونکي حکومت غړي ( وزيران ) دهيوادولسي جرګې ته وروپيژندل ، ماهم چې له مودوراهيسې مې ددغه نوملړداوريدوپه موخه دراديوڅپې تعقيبولې باآلاخره مې نن دغه تنده دناهيلۍ اوناامیدۍ په اوبوماته شوه .

مايه خوراليوالتيادغه بهيرد تلويزيون په پرده له پيله ترپايه تعقيب کړکله مې چې په ولسي جرګه کې پدغه مناسبت په جوړې شوې غونډه کې په پارلماني چاروکې ددولت دوزيرښاغلي محمدانورجګدلك له خولې ددغونوماندو وزيرانونوملړترغوږشو، په رښتياچې سخت خفه اوناهيلی شوم ، هغه لدې کبله چې موږ افغانانوسره له دې چې زموږ په سياسي تاريخ کې موترټولودبدنوم لرونکې دولسمشرۍ ټولټاکنې ترشاپريښودې ، هيوادوالوموتش پدې نوم چې پدغه ټولټاکنوکې يې برخه اخيستې وه ، دخپل خواږه بدن غړي پکې له لاسه ورکړل خوبيايې هم تمه داوه چې زمونږ دسرونواودبدن دغړوپه بيه دترسره شووټولټاکنوپه پايله کې دګټونکي ولسمشرله خوابه زمونږ په ټپونودمالګې پرځای پټۍ ولګول شي خوافسوس اوسل ځله افسوس چې زمونږ هيلې داځل هم دتيرپه څيردتشووعدوخوراك شوې اوپرقسمت موهغه پچه وختله چې يوځل مومخکې هم په برخه شوې وه دغه پچه په نوې کابينه کې دګڼونوروهغومجهول الهويته څيروترڅنګ چې په نوملړکې موجودول ، يوهم سيدمخدوم رهين وه .
سيدمخدوم رهين دښاغلي کرزي په تيره کابينه کې يوله هغوکسانوڅخه وه چې دنوموړي دپښتون ضد ، اسلام ضد اوافغان ضدفعاليتونوله امله يوځل ولسي جرګې په غوڅ اکثريت سره وراته اودخپلې باورراېي له لورينې څخه يې بې برخې کړخوداځل بياولسمشرکرزي دهغوافغانانودسرونو، لاسونو، ګوتواوغوږونودقربانۍ په بدل کې نوموړی يوځل بياداصيل افغاني اواسلامي کلتوردساتلو ( ؟ ) لپاره ولسي جرګې ته ورمعرفي کړ، زه وايم چې آفرين اوسل ځله آفرين هرڅوك دې همداسې ولسمشرولري اوهرڅوك دې دهغه دواك ته رسيدولپاره همداسې قرباني ورکوي لکه چې په تيروټولټاکنوکې دپښتون ميشتوسيموپښتنوورکړه اودهغوی دقربانۍ په بيه بريالی شوی ولسمشردې هم همداسې بدله ورکوي لکه سيدمخدوم رهين يې چې دهغوی په کلتوريوځل بيامسلط کړ.
زمايه آندولسمشرکرزی ګرم ندی ښايي هغه دواك په مزواوچړچوکې غرق وي خوګرم هغه قوم دی چې لاتراوسه يې له خپل تاريخ څخه څه ندي زده کړي تل دواکمنوپه غوږواونرمووعدوباورکوي اودهغوپه يوه تشه اوغولونکې ويناا‌وشعارتيروځي ، کله چې دتيروولسمشرۍ ټولټاکنې ترسره کيدی زه له هيواده بهرپه يوه تحصيلي سفرتللی وم خوله هغه ځايه مې درسنيوپه مټ دغه بهيرله نږدې څاره ، کرزي صيب چې هغه مهال کومې وعدې ولس اوپه ځانګړې توګه په افغان لانجه کې اصلي زيانمن لوري پښتون قوم ته ورکولې چې ګڼې زه به تاسوته يوه رښتينې مسلکي ، کارپوه اومسلمانه کابينه جوړوم تاسوته به امنيت راولم ، ددولت له وسله والومخالفينوسره به په هره بيه چې کيږي ، خبرې کوم خوپرون مې چې وليدل دهغوټولووعدوپايله سيدمخدوم رهين په ګډون ديوڅوهغوڅيروشتون وه چې ښايي نه به په افغانيت باورلري اونه هم ددولت له وسله والومخالفينوسره په خبرواترو.

(( بايد يادونه وکړم چې دکرزي صيب دهغه مهال دتشووعدوپرسرخوزمادوه تنه نږدې ملګري اوس هم داسې سره خفه دي چې تراوسه يې هم دپخلاکيدوهيڅ څرك نه ليدل کيږي اولاهم دخپلې کينې له مخې په يواوبل پسې ليکنې کوي خودکرزي صيب پرونې اعلان دواړه داسې ناهيلي کړل چې ښايي تيره شپه به يې ډوډۍ نه وي خوړلې .))


افغان جرمن آنلاين تاسو په درنښت همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رالېږلو مخکې په ځير و لولئ

په هرصورت که چیرې په اعلان شوې کابینه کې دکاندیدوزیرانو ، نوملړته وکتل شي دیوځوتنوڅخه پرته چې مسلکي وړتیااوافغاني تعهدبه ولري پاتې نوریې ټول هغه کسان دي چې نه مسلك لري اونه هم دهیواد اوحاکم نظام سیاسي ګټوته وفاداردي بلکې ددغوارزښتونوپرځای دخپل دوهم هیوادګټوته لومړیتوب ورکوي ، کله چې دتیرې کابینې دکارپرمهال داوبواوانرژۍ وزارت اودسیدمخدوم رهین دوزارت پرمهال داطلاعاتواوکلتوروزارت فعالیتونواوکړنوته وکتل شي نوزماپورتنۍ ادعاپکې له ورایه ثابیتیږي . دغودواړووزارتونوته اوسنیوکاندیدوزیرانودخپل کارپرمهال هڅه کړې چې هرڅه دایراني اخندانوپه خوښه ترسره کړي دایران فرهنګ ته یې په افغانستان کې دپلي کیدوهڅې پیل کړې که چیرې دهغه مهال د تش په نوم ملي راډیواوتلویزیون دخپرونوآرشیف وکتل شي نود رهین صیب ایرانیتوب پکې له ورایه معلومیږي اوښایي لوستونکي به له ماسره د رهین دایرانیتوب په برخه کې همغږي وي .

همدارنګه کله چې سړی داوبواوبریښناوزارت تیروکاري اومسلکي فعالیتونوته ځیرشي نوجوتیږي چې پدغه وزارت کې هرڅه دکرزي صیب ددوهم ځل پیشنهادشوي دمسلکي اوکارپوه وزیرصیب دتخصص اوکاري وړتیانتیجه ده چې نن افغانان دنومړي دبې توپیره بریښناویشنې له امله دبریښناخاوندان شوي همدارنګه که چیرې سړی دنومړي کاندیدوزیردکارپرمهال داوبواوبریښناوزارت ترونونوته پام وکړي نودهغو غوښنه برخه هغه ته داوسني مسلکي اوکارپوه ( ؟ ) کاندیدوزیرله ملاتړي هیواد ایران سره ترسره شوي ، زماښه په یاددي چې داوبواوانرژۍ وزارت له ایران هیواد څخه هغه جنراتورونه وپیرل چې لاله وړاندې په ایران کې دډیروکاریدوله امله استهلاك شوي وه ، همدارازدنومړي ددندې پرمهال خودننګرهارښاراستوګنوپرله پسې شکایتونه وکړل چې دویته دبریښناپه برخه کې دهرات په پرتله دموراومیرې چلندکیږي .همدغه کاندید وزیرهغه مهال له فزیکي پلوه دافغان دولت وزیروه خوله فکري پلوه یې ددغه نظام جرړې په تبروهلې اوټول وخت یې دنظام پرضد په ټلواله کې په کارتیراوه خونن یوځل بیادولسمشردسخاوت اوپیرزوینې له امله وزیرشو.

په پای کې که چیرې په لنډه توګه دکرزي صیب داوسنۍ کابینې ترکیب ته وکتل شي نوویلای شم چې نه پکې ملي ترکیب په پام کې نیول شوی اونه هم دهیواد ملي اواسلامي ګټې ، نه پکې مسلك په پام کې نیول شوی اونه هم هیواد اونظام ته وفاداري چې دمشت نمونه خرواریه توګه مودپورتنیودوه تنومسلکي ( ؟ ) اوافغاني ( ؟ ) کاندیدوزیرانونومونه یادکړل چې که چیرې دهیواد دویده پارلمان دغړودسخاوت ، پیرزوینواومعاملوپه پایله کې یوځل بیازمونږ دحکومت دغړوپه توګه وټاکل شي نولرې نده چې دهیواد اوسنی بیړۍ به مویوځل بیادولسمشردتشووعدوله امله په سین لاهوشي .


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنښت همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ